**د افغانستان د سیاست په اړه د امریکا اندېښنه**



د افغانستان په کارنو کې د امریکا د ولسمشر ډونالډ ټرامپ ورستی ځرګندونې په ډاګه کوي، چې د ده زړه د افغانستان له جګړې سوړ شوی او په دې برخه کې د امریکا د جنګي سیاست د تغیر غوښتونکی دی. د (ان بي سي) خبري شبکې په خبره: «د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرامپ تر خپلو مشاورینو، چې په افغانستان کې د امریکا د ستراتېژیکې جګړې مسئولیت پر غاړه لري، خپه و او په هغه غونډه کې یې، چې په سپینه ماڼۍ کې په کم رنګۍ ترسره شوه، د امریکا د لوی نظامي قوماندان د ایستلو وړاندیز وکړ.»

په هغه غونډه کې، چې د جولای په ۱۹مه تر سره شوې وه، ډونالډ ټرامپ څو ځله د جنرال نیکلسون د تبدیلۍ وړاندیز وکړ. نېکلسون په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو قوماندان دي، چې د افغانستان په جګړه کې بریالی نه و او د ځینو لوړ رتبه امریکایي چارواکو په خبره، دغه امریکایي قوماندان په افغانستان کې د امریکا موخه نه ده پوره کړې، خو پنټاګون په افغانستان کې د خپل شتون د دوام په لټه کې دی.

د ځینو چارواکو په خبره، ټرمپ له دوو ساعتو ډېر د دې موضوع په اړه بحث او خبرې وکړې او د ناټو له متحدانو نه یې په دې برخه کې شکایت درلوده. دا واقعیت دی، چې په افغانستان کې د امریکا مبارزه د افغانستان پر معدني شتمنۍ د تسلط یوه برخه ده؛ ځکه د امریکا لوړ رتبه جنرال له افغانستانه د ځواکونو د ایستلو په اړه د امریکا د ولسمشر له طرحې شکایت لري.

د افغانستان مسئله د ټرامپ او ملي امنيت د مشاور «مک ماسټر» تر منځ په يوه ښکېل ټکي بدله شوې ده. د يوې نامعلومې سرچينې په خبره، چې له «ډيلي کولر» ويب سايت نه يې نقل قول کړی دی:« د امريکا ولسمشر چې د کوم کار لپاره هر تصميم نيسي، مک ماسټر يې مخالفت کوي.» همدارنګه د يوه پخواني مقام خبرو ته په کتو، چې په يوه مرکه کې يې وويل:« ټرامپ له افغانستان او سوريې نه د امريکايي ځواکونو د وتو غوښتونکی دی؛ خو مک ماسټر غواړي، چې په دغه دواړو هېوادو کې جګړه نوره هم سخته شي. په همدې ترتيب ټرامپ د چين په قضيه کې د تعامل غوښتونکی دی، خو د ملي امنيت مشاور يې دا معامله نه غواړي.»

همدارنګه ټرامپ د سولې په قضيه کې د تعامل غوښتونکی دی، خو مشاور يې داسې نظر نه لري. لکه څنګه چې پوهېږئ د ايران پر قضيه کې د امريکا د خلاصون په غونډه کې بحث او د نظر تبادله وشوه؛ خو مک ماسټر ونه غوښتل، چې امريکا دې د ايرن له قضيې خلاصون ومومي. دی زموږ د سترګو پر وړاندې حيران شوی دی، فقط حيران.

په حقيقت کې موږ د ټرامپ د ملاتړو او امنيتي موسسو تر منځ د دغو مختلفو سياستونو د مبارزې شاهد يو. افغانستان د هغه پراخه شواهدو پر اساس، چې د امريکا د ناکامۍ په اړه دي، د بحث وړ يوه نقطه باندې بدل شوی دی. د امريکا په ملاتړ د کابل رژيم د افغانستان د دې ټول پراخوالي په لرلو سره پر نيمايي دولت تسلط او کنټرول لري او ډېری مجاهدين د فغانستان د نظام پر وړاندې د جګړې په ليکو کې پرمختګ کوي.

افغانستان له حياتي او ستراتېژيک پلوه د امريکا لپاره ډېر مهم رول لوبوي. لکه څنګه چې دا مرتفع هېواد د اسيا د جنوب، مابين او غرب تر منځ پروت دی، چې د نورو هيوادنو د ګواښلو او پر هغوی د تسلط لپاره په دې پراخه او مهمه سيمه کې مناسبې اډې ليدل کېږي. نو پر دغه اساس روسيه او چين د دغه هېواد په شمال کې پراته دي، خو د افغانستان تر شا يواځې امريکا ده، چې د خپلو موخو د پوره کولو لپاره په دغه هېواد کې جنګېږي؛ خو د افغانستان مخلص مسلمانان د کفارو پر حاکميت هېڅکله راضي شوي نه دي او نه به راضي شي.

**عثمان طه**

**۲۰۱۷م، د اګېسټ ۱۵مه**